دانټرنیټ دفارسی سرچینوڅخه

ژباړونکی :عزیزاحمد خوارمل

## ۱ـ د(۲۰۰۱بیا تر۲۰۰۸) م کال پوری د شمالي اتلانتیک دنظامی تړون د(ناټو)دسازمان زر (۱۰۰۰)تنه سربازان په افغانستان کې وژل سویدی !

## ۲ـتایمز بربنده اواشوایي کړ:

## دناټودقومانداناناوړیکی دمافیا دمشرانوسره!

## ۳ـ وال استریت ژورنال خپور کړ:
## امریکا دطالبانوسره دخبراتروپه لټه کې دی !

## ۴ـانګلیسی جنرال په افغانستان کې دشمالی اتلانتیک دنظامی سازمان پرکړنوباندی وناټوته یې ګوت څندنه وکړ!

## ۵ـدافغانستان جګړه لسګونه کلونه نور به هم وخت ونیسي !

د(۲۰۰۱)م څخه بیاترننه پوری ډېرتره تر زروتنوپوری دبهرنی ځواکونو د( شمالي اتلانتیک دنظامی تړون د«ناټو»دسازمان ) سربازان دافغانستان په جګړه کې ځانونه یې دلاسه ورکړی او وژل سویدی . دفـــرانسی خـــبرآژانس تیره اونـــی په یـــورپـوټ کـــې ولیکل چې دافغانستان رسینود دووبهرنیوسربازانودوژل کیدودخبر په خپرولوسره ولیکل ،دبهرنیوځواکونود (۱۰۰۲) یوزرودوه تنه سربازانوپه وژلوسره ،دوژلوسوسربازانوشمیره زیاتوالی یې موندلی دي . په دی راپور کې راغلی دی : په دغه موده کښي په افغانستان کې په جګړواومخامخ یرغلونوکښي (۶۲۴) شپږسوه څلرویشت تنه امریکائی سربازان وژل سوی ،چې دوژل سوی بهرنیوسربازانو ډېرتره **برخه جوړه وي چې په دی هیوادکې ځانونه یې دلاسه ورکړیدی .**
**همدارنګه دافغانستان په جګړی کې (۱۲۱)یوسلوویشت تنه انګلیسی سربازان،(۹۷) اوه نهوی تنه کاناډایی سربازان،(۳۰) دیرش تنه المانی سربازان او (۲۳)درویشت تنه فرانسوی سربازان دعملیاتونوپه ترڅ کې وژل سویدی .**

**په همدی ډول سره (۱۶) شپاړس تنه ډانمارکي سربازان،(۱۳) دیرلس تنه ایټالوی سربازان او(۸) اته تنه پولندی سربازان هم دافغانستان په داروانه جګړه کې دمنځه تللی او وژل سویدی .**
**دخپاره سوي شمیرني پربنسټ په افغانستان کې، دوزره اتم(۲۰۰۸) میلادی کال دبنکیلاګروځواکونودپاره دوینوډک کال وو.**

۲ـتایمز بربنډه اواشوایي کړ:
دناټودقومانداناناوړیکی دمافیا دمشرانوسره!



تایمز انګلیسی ورځپاڼی د **شمالي اتلانتیک** دنظامی تړون( ناټو) سازمان دقوماندانانوداړیکونه یې دمافیا دمشرانوسره پرده پورته کړ،اودغه مسله یې ومطبوعاتوبربنډه اواشوايي کړ.
دتایمزورځپاڼی ولیکل ،دناټوامریکائي قوماندانان دایټالیا دناپل دښارپه نږدی سیموکښې ویلاګانی اوښکلی کورونه یې په اجاره اخیستی دي چې دغه ویلاګانی او کورونه په یوسړی پوری اړه لری چې دهغه نوم "انتونیو لووین" د(ناپل دښار دمافیایی ډلو ) د"کامورا" دیوی ډلی مشردی .
دتایمز ددی لکنی پربنسټ ،انتونیولوین دهغو(۳۰) دیرشوتنوخطرناکوایټالویانودجملی څخه دی چې دجرمونواوقتلونواودیوشمیر نوروجرایموپه ترسره کولوکې دایټالیا ددولت دپولیسواودامنیتی ارګانونوترڅارنی لاندی دی اودغه سړی (۱۲) دولس کاله کیږی چې پراری کنډل کیږی اودپولیسوڅخه ځان یې پټ ساتل دی .
دهغه څیرنی اوپلټنی پربنسټ چې د "کوریر دلا سرا"ورځپاڼی تیره اونی ترسره کړی اوبیا یې خپور کړدایټالیا پولیس اعلان یې وکړ چې دناپل دښار په شااوخواکې ډیرځایونه(کورونه او اپارتمانونه) سته دی چې د شمالي اتلانتیک دنظامی تړون (ناټو)دسازمان دامریکایی قوماندانانولخواپه اجاره اخیستل سویدی اودغه ځایونه دمافیایي ډلوپه مشرانوپوری اړه لري خصوصاَ دانتونیو لووین شتمنی دی .
دتایمز ددی ریوټ پربنسټ ،دناپل دسیمی په شا اوخواکي،یوشمیرساختمانونه اوجوړښتونه شته دی چې په ناټوپوری اړه لری اوهمدارنګه دناپل د"کاپودیچینو"په سیمه کښې دامریکا هوائي هډه موجوده ده چې په اصل کې دامریکا نظامي هډه ددی اجاره سوی ویلا(کور) څخه د(۱۸) کیلومتر په واټن سره لیری واقع دی .

دایټالیا دمافیا ضد چاروکي په دی هکله وایی : داپه رښتیا سره دخنداوړ دی ،دناټوقوماندانان چې ایټالیا هم ددی نظامی تړون غړی ګڼل کیږی دمافیا دبکسونوپه ډکولو کې مرسته کوی . دغه کړنه دالمړی ځل ندی چې دامریکا اړیکي

دنورو هیوادونودښوربنی ګروپونواوډلواودقانون دمخالفوډلوسره بربنده اواشواکیږی ،په دی هکله مخکي  واشینګټن تایمز دواشینګټن اود **دتامیل** دبیلتون پالوپراګانوترمنځ داړیکوڅخه خبرورکړ  اوددی پټواړیکونه یي پرده ورنه پورته کړ  .اودیوشمیرنورودترلاسه شویواسنادوله مخی په دی هکله  ویلـــی سو چـــي  دامریکا مـــرستی  په تیرولسیزوکښي دنیکاراګـــوا  وښوربښیانوته رښتینی او

حقیقی بیلګه ګڼلی سو.

۳-وال استریت ژورنال خپور کړ:
امریکا دطالبانوسره دخبراتروپه لټه کې دی !

یوی نامتو امریکایی ورځپانی په یورپوټ کي دسپینی مانی دجګپورووچارواکوپه حواله یي ولیکل ،واشینګټن دطالبانوسره دخبراترو دځیرنی په حال کې دی .



د"وال استریت ژورنال"ورځپانی  په خپل یورپوټ کي دسپینی مانی دجګپوروچارواکو په حواله چي ددوي نومونه یي نه دی اشواکړی  وی  ولیکل :امریکا دطالبانودډلی سره دخبراترو دځیرنی په حال کې دی، دغه پیل دامریکا په سیاستوکښي په ښکاره توګه یولوی بدلون دافغانستان په جګړه کې  شمیرل کیږی . ددی رپوټ په یوه برخه کښي راغلی ده : شاواوخواڅومیاشتی مخکي  کابوودی موضوع ته سوچ کول  یوغیرممکن  امر  وو.نظامی جګپوری چارواکی اوسپینه مانی   اوس په دی باور اوعقیدی دي   چي ديوشمير  د طالبانودغړوسره نرديوالی بیله ددوي دوتلومشرانوڅخه  کیدی سی   چي په افغانستان اوپاکستان کي داوسنی کړکیچ په راکښته کولوکي لویه  اوګټوره مرسته وکړی  .
ددی رپوټ په ادامه کي لیکل سوی دی : دسپینی مانی په ځیرنو کښي دغه رامخته سوی کـړنلیک  په افغـــانستان کې دامریکا داستراتـــیژی یوه برخــه  ګڼل کــیږی  . اودغه خبراتری د
افغانستان ددولت  په وسیله ،مګردامریکا په فعال  مدیریت  اوشته والی سره به  پرمخ بیول کیږی  .امریکایی اطلاعاتی ارګانونه به  دافغانستان دامنیتی  وضعی  اوپه دی

هیوادکې دامریکائی ځواکونو په هکله به رپوټ ترتیبوی چې همدا اوس دغه رپوټ وخپل وروستی پړاوته رسیدلی دی .
وال استریت ژورنال ولیکل : دسپینی ماڼی په دا وروستنی څیړنه کې دافغانستان دامنیتی وضعی په هکله په راتلونکی میاشت کښې دجمهوری ریاست دټول ټاکنونه وروسته په امریکا کې خپورسی اودراتلونکی نوی دولت په واک کې به کیښودل سی .
په دی رپوټ کې راغلی دی: دطالبانو سره دخبراترو ایډیا د"دیوید پترائوس"، په منځنی ختیځ اومرکزی اسیا کې دامریکا دځوکوانودقوماندان لخواهم ملاتړ کیږی .
پترائوس تیره اونی په منځنی ختیځ ،افغانستان اوپاکستان کې دامریکائی ځواکونوقوماندان وټاکل سو اودی به دغه نوی دنده پرغاړه واخلی .
په دغه امریکائي ورځپاڼی کې لیکل سوی دی دامریکا دجګپوړوچارواکومخه کیدل دطالبانو سره وخبراتروته ،داوړاندیزپه داهسی شرایطوکښې ترسره کیږی چې داکتوبرپه لمړی اونی کښې په سعودی عربستان کې دافغان چارواکواودطالبانودپخوانیوچارواکوسره په کتنه کښې یو دبل سره یې خبراتری وکړي ،او.ویل کیږی چې دغه خبراتری د سعودی عربستان په منځ ګړیتوب اودپاکستان دپخوانی لمړی وزیر نوازشریف په ګډون سره ترسره سوی دی .

۴-انګلیسی جنرال په افغانستان کې دشمالی اتلانتیک دنظامی سازمان پرکړنوباندی وناټوته یې ګوت ښندنه وکړ!

دانګلیس یو جګپوړی جنرال په افغانستان کې دشمالی اتلانتیک دنظامی سازمان پرکړنوباندی وناټوته یې ګوت ښندنه وکړ او وی ویل په افغانستان کې دناټوځواکونه دخپل کار و وروستی پړاوته رسیدلی دی ،اوپه هیوادکې دثبات اودسولی دټینګولو اوتامینولودپاره باید دسیمی دځواکونوڅخه دی ملاتړ اووسی .
جنرال مایکل رز په بوسنی کې دملګروملیتونودسازمان پخوانی قوماندان تیره شنبه یې اعلان وکړ اووی ویل زما په هانداوس مهال ناټوپوره جګړه ایز ځواکونه دطالبانوسره دګټوری مبارزی دپاره په خپل واک نه لري .
انګلیسی جنرال وویل ، دافغانستان جګړه هم لکه نوری جګړي دخلکودخوښی دلاسته راوړلو اوداعتماد دراجبولو دپاره ډیره مهم تره اوګټورتره تربل هرډول نظامی تاکتیک څخه دیرغلګرواوتروریستانوپرضد دی .
دغه انګلیسی جنرال چې په دا وروستیو کښې دافغانستان څخه راغلی دی وی وویل : په داهسی حال کې چې نړیواله ټولنه په ټینګه سره دبریاو پرلاسته راوړلوباندی ټینګار کوی ، همدارنګه دناټوځواکونه هم په افغانستان کې دعملیاتی ستونزواوپرابلمونوسره مخا مخ دی .ده په دی هکله وړاندیز وکړ چې قبیلوی افغان وسله وال(اربکیان) دی باید دلویدیزوهیوادونو دځواکونو اودافغانستان داردو دځواکونو سره دمرستی دپاره دی جوړ اوسازماندهی دی سی .
دالمان خبری آژانس دلندن څخه په یورپوټ کې ولیکل: ددی جنرال دویلو پربنسټ دپلی(سرحد) په دواړه خواوکې دمیشته اوسیدونکو، چې ټوله یې پښتانه قبایل دی ددوي په

راجلبولو اوپه ملاتړسره کولی سو،چې ددی هیوادپه ختیځ اولویدیزوسیموکښې امنیتی وضعیت ښه والی پیداکړي .

## ۵ـدافغانستان جګړه لسګونه کلونه نور به هم وخت ونیسي !



جان بتن د انګلیستان د دفاع وزیر دیوی انګلیسی ورځپانی سره په یوی مصاحبی کې ویلي دي ، دافغانستان جګړه به تر لسګونو کالنو پورې دوام ومومی ، نوموړي ویلي دي ، چې په دې جګړه کې د ماتې دمخنیوی دپاره بایدنړیوال ائتلافي ځواکونه ځانګړې پاملرنه دی وکړي، نوموړي زیاته کړه ، د طالبانو د منځه وړلو اوماتولودپاره ، او دائتلافي ځواکونو دموخو په ترلاسه کو لو کې به لسګونه کلونوته به اړتیا ولرو ، د انګلیس د دفاع وزیر په دی هکله زیاته کړه دطالبانو سره جګړه یواځې دنظامی اوجګړه ایزوفوځي لارو په وسیله ګټل کېدی نه سي بلکې ددی جګړی د ګټلو اودبریاو دلاسته راوړلودپاره باید ښه پوه او اولسی چارواکي وټاکل سی او دبیا رغونې کارونه دی ګړندی سي ، نوموړي زیاته کړه ، هغه بهرني فوځیان او یا نور چارواکي ، چې په افغانستان کې په دندو بوخت دي ، کله چې هغوی وخپلو هېوادونو ته ځې او بیرته ستنیږی نو بیادا اوازې خپره وي ، چې دوي ذهني مریضان دي ، چې دا کار د هغوی په کار او دندو کې ستر خنډ رامنځ ته کوي .

جان بتن همدارنګه ویلې یې دی،وطالبانو ته دافغانستان تسلیمول به دټولې نړی په تاوان وي .

دانګلیس ددفاع وزیر ویلي دی ،چې ناټو او بهرني ځواکونه باید د وړو بزګرانوبی ګناه او اولسی خلکود نخښه اونښان کولو پرځای دی د مخدره توکو لابراتوروونه او د مخدره توکو قاچاقبران دی په نخښه کړی او د منځه دی یوسي .

جان بتن ومنله ،چې په افغانستان کې دمیشته انګلیسی ځواکونه او فوځیانو په شمیر کې یوڅه ټیټوالی راغلی دی اصلی وجه یې دادې چې یوشمیر فوځیانو د خپلو رخصتیو په قواعدو کې ناقانوني او خلاف ورزي کوی . په همدې ډول سره دانګلیستان د دفاع وزیر جان بتن هم افغانستان ته ولاړی او هلته یې د خپلو میشتوځواکونو اوپوځیانو څخه لیدنه اوکتنه یې وکړاو دافغانستان د دولت دچارواکیو سره هم وکتل . /

اخځلیکونه :

-دجام جم څخه

- دحیات نیوز څخه

- دفارس نیوز څخه

دفارس نیوز څخه

دایرنانیوز څخه